سپور به په پياده، پياده به په ناست او کم به په ډېرو سلام اچوي

له ابو هريره -رضي الله عنه- څخه روايت دی وايي چې رسول الله -صلى الله عليه وسلم- فرمايلي دي: «سپور به په پياده، پياده به په ناست او کم به په ډېرو سلام اچوي». او د بخاري روايت دی: «کوچنی به په لوی، لاروی به په ناست، او ډېر به په لږو سلام اچوي».

[صحيح دی] [متفق عليه دی]

رسول الله صلى الله عليه وسلم خلکو ته د سلام اچولو آداب ورښودلي - چې الفاظ يې داسې دي - "السلام عليكم ورحمة الله وبركاته"، نو کوچنی به په لوی، سپور په لاروي، لاروی به په ناست او لږ شمېر به په ډېرو سلام اچوي.

http://www.sunnah.global/hadeeth/ps/show/4243